سوال: د غني خان په ژوند او فن لیک او کړئ.

## د غني خان تعارف:

خان: عبدالغني خان د باچاخان زوی وه، چي د عدم تشدد مبتکر و. غني خان د ۱۹۱۴ عیسوي کښې د فخر افغان خان عبدالغفار خان کره د چارسدې په اتمانزو کلي کښې زیږیدلے و. بحضه داسې شاعر و چي د مینې، بنګلا او اشاعت خبرې کوي. غني خان د خپل شاعرۍ په توګه د انسان د روح، عقل، سوچ او آزاد فکر تصویر وړاندې کاوه.

غني خان فرمائي

"زه د انسان د ښکلا شاعر یم"

## د غني خان ژوند او فن:

### (ا) د غني خان د علم او هنر:

د غني خان کور د علم، پوهنې او سیاست کور وو. د دغه پلار باچا خان د تعلیم، شولې او ازادۍ لار ښودونکي و. په داسې چاپیریال کښې د غني خان ذهن له ورکتوبه د پوهې او مینې له احساس سره رنګ شو. غني خان د خپل پلار نه زده کړه کړې وه چي علم و فکر د انسان لپاره رڼا ده. د ده ضمور هم د بیدارۍ ښځه وه، چي ده ته یې د احساس اور ترغیبت درس ورکاوه.

### (ب) د غني خان تعلیم حاصلول دپاره هند اور انګلستان ته سفر:

غني خان د شنګل هائي سکول پېښور نه ابتدائي تعلیم حاصل کړو. ابتدائي تعلیم نه پس د اتمانزو هائي سکول کښې داخل شو. اور دسم جماعت کولو نه پس جامعه ملیه دهلي ته لاړ. او هلته کښې د هنر او فلسفې زده کړه وکړه. بیا انګلستان ته لاړو. او هلته یې سمه پوهه اوکړه. چي اصلي زده کړه خو د ژوند په تجربو کښې ده.

غني خان فرمائي

د هندوستان د ځکې په هر رنګه اوزګ لوګیږي
خو د جونګړې په غظمت بازي ملنګ لوګیږي

Introduction should be increased

## (پ) د غني خان د بند او سخن ژوند تجربې:

کله چې باچا خان د خپل تحریک د باره بندي شو، نو غني خان هم ورسره بندي شو. او دې دوران کښې ډېر ژور فکرونه وکړل او د شعر تمرینه ئې هم ورته وشو. او په دې قیدخانه کښې د دا احساس اوکړ چې انسان فکري ازادي له ډېره ضروري ده. دغه تجربې ده ته د ژوند فلسفه ورزده کړه.

غني خان فرمائي:

[illegible] لوی
بې ذوقه خلق نه په زړګي [illegible] تعبیرونه

Always provide explanation of the poetry.

مونږ چې د دین فلسفه څومره پوره وکړله
سپي به نه یم که ملا صاحب یې په سترګو تعبیر کړي

## (ت) د غني خان شاعرۍ احساس، مینه او فلسفه:-

د غني خان د ماشوم توب نه شاعرۍ سره مینه وه. څو د "پلوشه" له کتاب سره یې شعرونه پیل شو. ده کښې شعرونه د انسان احساس، عقل، او د ژوند د ښکلا ذکر دي. ده په خپلو شعرونو کښې د خدای، ژوند، طنز و مزاح محراځ ځانګړې کړي دي. غني خان د پښتو شعر ته نوې ژبه، نوي خیالونه او فکري ژورتیا ورکړې ده.

غني خان فرمائي:

ما ویل غني یار خو بې اندازه غونډي بې.
ادب دې دومره کښې کم، ژبه دراز ده غونډي بې.
ضمیر دې ده کم ده هم خان شول، نه ملا شوې.
څوک چې ده پیاڅوله لیني د دې پیاز غونډي بې.

(ث) د غني خان د انسان ازاد فکر او وجدان باره کښې خبرې

د غني خان رح الله سره بې شانه مینه وه. ځکه هغه همېشه غوښتل چې انسان د خان د ذهنه خرافاتو و موهوماتو؛ غني خان همېشه انسان ته دا نصیحت کوو چې عقل او وجدان ته لار واخلي، د دا مذهب احترام کووه او د تعصب او جهالت مخالف وو.

غني خان رحمة الله ته مخاطب دی او وائی چې

چې د سینې د ننه زړونه سپین وي
خبر دي مخونه ورله تور پیدا که
چې د غني په شان تا وپیژني
خدایا! یو څو سپین تور پیدا کړه.

(ت) غني د لیوني فلسفي په نوم یادیږي.

غني خان په ادبي دنیا کښې د لیوني فلسفي په نوم یادیږي. د ده شاعرۍ کښې د حسن و عشق یو ډېر لوی مقام دی. دے د عشق په یو داسې سمندر کښې ډوب دے. چې سوا د ده قیمتي مفکرو نه تور هېڅ نه راوباسي. ~~جهنمي~~ د غني د شاعرۍ په حقله یو نقاد لیکي چې لیکې او خودي، سرور او مجاز، شوخي او رنګیني، حسن او عشق، رنګ و خیال، او د جذباتو او واقعاتو صحیح تصویر کشي د ده د کلام روح دے.

(ج) د غني خان د شاعرۍ مجموعې:

د غني خان په شاعرۍ مجموعو کښې د پنجرې چغار، پلوشې او فانوس شامل دي. اوس یې ټول کلام د غني لټون په نوم چاپ دے. د پښتو د ژوند او تاریخ په حقله یې په انګرېزۍ کښې (دي پټهانز) نومې کتاب چاپ دی. او پښتو کښې یې ترجمه کلم شوې ده. ده خپلو اعلی خدماتو په سبب صدارتي ایوارډ یا فخر کړے. ده کلام نمونې یې دا ده.

زه یم زه رنګ، سرور او ښکلا ښکار زه یم
د جانان سترګو کښې مې مراوي خمار زه یم
دا لعلین زما د مست زړه د ښادېښت دی
یار زما د زړه ارمان دی دلدار زه یم

زما زړه چې د ښکلا ښکلا او رنګ شي اوګي
سپرلي سره ګلونه راشي بهار زه یم.

دا چې زه شم د موسکو شونډو لېوال
لیلې جوړه کړم د حسن معمار زه یم.

دا څو زه د څنګلي سوز په هوا سور کړم
روح د هر معنی، آواز او ستار زه یم.

چې زه نه یم بې معنی جنت آسمان دی.
د جهان د سوز و مینې مختار زه یم.

دوه ګړۍ لوی سترګو دې وړوکي ګوتې ژوندي کښې
یار زما کمال، کمال د دلدار زه یم.

(ج) غني خان مینه د ژوند رڼا بللې:

غني خان فرمایي چې مینه هغه ده چې ژوند ته رڼا ورکوي. خوښي او احساس ورکوي. غني خان د ژوند په هره سیمه کښې ده مینې د لارې او د انسان د نرم زړه خبرې کوي. غني خان وایي چې په زړه کښې مینه سالکون سره انسان د الله خوا ته نژدې کیږي.

غني خان وایي

په زړه کښې بلې پرون مې لو تصویر د دې جانان
د دې حسن مجسمه دې چې یې نه کېږي بیان
او د هر چا د سترګو پېړۍ دې. څو ښکلا یې دې هر زمان

پاڼه: غني خان د پښتو ادب یو نه هېرېدونکی نوم:

غني خان د پښتو ژبې یو داسې لیکوال دی چې ځانګړنه یې په بیان نه شي. ده د شعر، فکر، فلسفې او هنر په لاره د ژوند مانا ښودلې ده. غني خان خلکو ته دا پیغام ورکړ چې مینه، علم او انسانیت د ژوند بنسټ دی. غني خان به تل د پښتنو په زړونو او ذهنونو کې ژوندی پاتې وي.

غني خان وائي

نه صنم نه صنم پاره مرګ انجام د کعبې نه دے
خدای خبر دی شراب په جام کښې انجام د مستۍ نه دے

چې ما بنا ده تو چې شپې وي نو د غني سبا هم وي
چې رڼا وي تیاره هم وي، چې تیاره وي رڼا هم وي

Very good presentation. Keep it up
Always provide explanations for the poetry
Increase the length of your introduction.